انجنير سيد عبدالقادر

۱۲ جنوری ۲۰۱۳

## دطالبانوپه وړاندي دامريکا دسياست بدلون

## ۲

دا ښکاره خبره ده چی دطالبانو په وړاندي دغربي نړي دهر هيواد  هر نوي سياست او اجندا  چې رامخ ته کيږي ، دامريکا تر مستقيمو يا غير مستقيمو   مشورو او نظارت لاندي مخ ته ځي ۰ دا دواقعيت څخه ليري خبره ده، چي دپاريس کنفرانس دي دامريکا دمشوري پرته جوړ سوي وي ۰ ځکه نو ويلايسو چې دپاريس کنفرانس دامريکا دسياست دبدلون ښکاره بيلګه ده ۰مخکي تر دي چې دامريکا دسياست دبدلون لاملونه وليکو بايد وويل سي چې :

الفردويليام مک کوي چې د امريکي د (وسکن سين) په پوهنتون کي د تاريخ پروفيسر دی، د۲۰۱۰ کال دمارچ په مياشت کي په خپله يوه  مقاله کي ليکي ، چي د امريکي د امپراتوری نسکورېدل رانږدي شوي. د ده په وينا د يوه زبر ځواک په توګه د امريکي نسکورېدل تر هغي ډېر نږدې دي ، چي تاسو يي فکر کوئ. د ده د اټکل له مخي امريکا به د يوه زبر ځواک په توګه تر ۲۰۲۵ کال پوري نسکوره شي او په وينا يي د نسکورېدو بهير پر عراق تر بريد وروسته په ۲۰۰۳ کال کي پيل شوی. دی وايي، چي د نورو زبر ځواکونو دنسکورېدو بهير هم ډېر وخت نه دی نيولی ، د بېلګي په توګه د پرتګال امپراتوري په يوه کال کي ، د شوروي اتحاد امپراتوري په دوو کلوکي ، فرانسي په ۸ کلو کي ، عثماني امپراتورى په۱۱ او برتانيې په ۱۷ کي سقوط وکړ، او امريکا به په راتلونکو ۱۵ کلوکي سقوط وکړي .

ديادولو وړ خبره ده چې  دشوروي اتحاد تر پاشل کيدو وروسته د  امريکا د۲۱ قرن د امپراتوري واکمنانو ونه کړايسواي چې په نړي کي ديوه ابر قدرتي لويه ګوله هضم کړي ۰ دا ځکه چې دوي په ډير تلوار  دتکبر څخه ډک ګامونه وچت کړل ۰ او د خپلو شومو اقتصادي مخو له پاره يي داسلامي نړي يو شمير هيوادو حاکميتونه  دخپلو دښمنانو په نامه ياد کړل ۰ داځکه چې په دی هيوادونو کي نه يواځي دتيلو او نورو قيمتي منرالونو زيرمو شتون درلودي ،بلکه دا هيوادونو  دسترا تيژيکي پلوه هم امريکا ته  د پام وړ اهميت درلودي ۰ دبوش اداري وکړايسواي چې دسپتيمبر د۱۱مي  مجهولي پيښي څخه په  استفاده دملګرو ملتونو دقبول سوو منشورونو څخه په ښکاره سر لغړونه لومړي پرافغانستان يرغل تر سره ، دطالبانو حاکميت  چپه او خپل ګوډاګي رژيم  پر افغان ولس باندي دبن دغير مشروع او افغان ملي ګټو ضد کنفرانس له لاري  د(بي ۵۲ ) الوتکو په زور تحميل کړ ي  ۰ او تر يوه کال وروسته يي خپلي استعماري لښکري دعراق دتيلو وزيرمو ته ورسوق کړي ۰  دمرحوم صدام حاکميت يي چپه اوهلته يي هم خپل ګوډاګي رژيم  ځاي پر ځاي کړ ۰چې  دنړيوالو جمعي رسنيو له مخي يي تر يو ميليون ډير بې ګناه عراقيان  په شهادت ورسول ۰ دعراقي ولس دسختي مقاومت څخه وروسته د۲۰۱۱ کال په نومبر کي تولي استعماري لښکري

دعراق ښخهووتلي ٠ او عراقيانو دامريكا داشغالي لښكرو دوتلو وروستی ورځ دعراق د نجات دورځي په نامه ياده كړل ٠ اوتر اوسه پوري دعراق ولس ددوي دتوطيو په لمبوكي سوځي ٠

بايد وويل سي چې په افغانستان او عراق كي دامريكا پوځي تلفات، تر يوه تريليون ډالروډيرو لګښتونو ، دهم دي استعماري يرغل په نتيجه كي په نړي كي دامريكا دسياسي اتوريتي دكچې بي ساري ټيټوالي او په امريكا كي تر اوس مهاله د۲۰۰۹ كال مالي او اقتصادي بحران دوام ، تر (۱۶ ترېليونو ډالرو ) ډير ه پور اخيستنه ، دبوديجې دوامداره كسر ، دبيكاري او جګړي پر ضد د ( والسټريټ اشغال كړي ) په نامه دنوو سياسي ولسي خو ځښتونو ميدان ته كيدل او دافغان جګړي په وړاندي دناټو دهيوادونو د مشرانو دنظر ليري والي اوديرغل په وړاندي دافغان ولس بي ساري قرباني ، مقاومت او تنفر ، داوباما اداره ودي ته اړ ايستل چې خپلي يرغلي قواوي دافغانستان ښخه وشاته وټمبوی٠ ځكه نو دځينو سياسي كار پوهانو دنظره امريكاپه اوس مهال كی غواړي چې نوي دوست ځان ته پيدا او لاس نيوي يي وكړي ٠ چې د راتلونكو وختونو له پاره په افغانستان كي دپښي اينوولو ځاي ولري ٠ ادا ځكه چې په جګړه ايز سيا ست كي يي نه يوازي ګټه تر لاسه نه كړه بلكه دافغان او منطقي دولسونو بيساري تنفر يي هم په وړاندي راپيدا سوو ٠ ويلايسووچې دپورتنيو لاملونو له كبله يي په سياست كی د تغيير نښي رابرسيره شوي دي .

دلته سوال راپيداكيږي چې امريكا به لومړي كوم امتيازونه وځان ته ايږدي،او وسله وال مقاومت به دملي ګټو په نظر كي نيولو سره كوم امتيازونه ودوي ته وركوي ٠ چې دا هم نه يوازي دامريكا او ددوي دګوډاګي رژيم په وړاندي د ولسي تنفراو مقاومت په كچې پوري مستقيمي اړ يكي لري بلكه دامريكا په سياسي او اقتصادي توان پوري هم اړيكي پيدا كوي ٠ په داسي حال كي چې په نړي كي عيني واقعيتونه دا په ګوته كوي ، چې امريكا پس له دوو لسيزو ښخه چې دنړي درهبري دعوه يي كوله ، او ځان يي دتكبر ښخه ډک زبر ځواک بلي ، نوريي دكمزوري اقتصاد او ناكامه سياست له كبله په نړي كي درهبري توان دلاسه وركړي دي ٠ چی ښه بيلګه يه ملګرو ملتونو كي د امريكا او اسرائيلو دمخالفت سره سره دناظردولت په توګه دفلسطين رسمي پيژندګلوي ده ٠ چې امريكا په دي رايه اچونه كي وكړايسواي چې دنړي دهيوادونو ښخه يوازي اته هيواده دځان ملګري كړي ٠ ځكه نو دامريكا په تيرو اتخاباتو داوباما په وړاندي دجمهوري غوښتونكو نوماند ( ميت رامني ) د ۲۰۱۲ كال داكتوبر پر نهمه دخپل تبليغاتي كمپاين په درشل كي په يوپوځي انستيتوت كي داسي وويل :( په هغه صورت كي كه امريكا ونه كړايسي چې بيا په نړي كي درهبرپه توګه ځان ښكاره كړي ، نور كسان ، هغه څوک چې دامريكا سره مشترک ارزښتونه او ګټي نه لري داكار به وكړي ٠ او نړي به تر اوس مهال تاريكه كړي ) ٠دنوموړی ددي څرګندونو په وړاندي يوازي ويلايسو چې : ( خواب است ، مهال است وجنون ) ٠

اخځ : دفرانسي دفيګارو ورځپاڼه ٠ تمت با الخير

۱۱ـ ۱ ـ ۲۰۱۳

***يادداشت:***

*تاريخ حيات ننگين و نكبتبار، طالب و حزب اسلامی كه امروز برخـی ها سخت در تـلاش اند تـا تمام مقاومت مسلحانۀ مردم ما را به آنها بچسپانند، به خوبی نشان مـی دهد، كـه آن دو نيـرو نيـز وقتـی پـای رسيدن و حفظ حاكميت جبارانـه و قرون وسطائی خود شان در ميان باشد، چيزی را به نام منافع ملی افغانستان به رسميت نـشناخته و در آينـده نيز نخواهند شناخت.*

*ادارۀ پورتال AA-AA*